کارکن
او
ګوندي ژوند

مقرر: مختارخان یوسفزی

Scanned with CamScanner

کارکن اوګوندي ژوند

مقرر: مختار خان یوسفزے

Scanned with CamScanner

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

ټول حقوق د لیکوونکي په حق کښې خوندي دي

د کتاب پېژندګلو:

د کتاب نوم: **کارکن او ګوندي ژوند**

تالیف : مختار خان یوسفزی

چاپ کال: 2022ء

چاپ ځای: کتاب کور ارباب روډ ستاپ پېښور
00923319801600

قیمت: 150 روپی

وضاحت

په پښتونخوا ملي عوامي ګوند کې د مطالعې او د هغې د پاره د درکارو موادو په خاصه توګه د ګوندي لټریچر چې څومره اړتیا ده زموږ ګوند ورته هغه هومره پام نه دی کړی. چې د وجې یې زموږ ملګري نه صرف د مطالعې نه نا اشنا شوي دي بلکې په ګوندي ژوند یې خورا بدې اغېزې هم کړې دي. د ګوندي وحدت او نظریاتي یوالي د پاره ضروري ده چې ګوند وخت په وخت داسې مواد چاپ او ملګرو ته ورسوي چې هغه د ملګرو سیاسي ضرورت پوره، علمي تنده سړه او فکري وحدت رامنځ ته کړي. د هر انقلابي ګوند د پاره ضروري ده چې هغه خپل غړي په ګوندي نظریاتو او د هغې په علمي حقانیت پوهه کړي، په خپل قامي تاریخ، ادب، جغرافیه او کلتور یې خبر کړي، د نړۍ انقلابي او د قامي ازادۍ د تحریکونو سره یې بلد او په روان بین المللي سیاسي صورتحال یې اګاه وساتي. په بل صورت کې ګوند د لیډرشیپ د بحران سره مخ کېږي. او د ګوند ډېرې مهمې ادارې په داسې خلکو جوړېږي چې هغه د سیاست، تنظیم او نظریاتو په یو دوه نه وي اګاه. د لیډرشپ د بحران له وجې د اجتماعي قیادت اصول د منځه لاړ شي. چې ورسره نظریات، تنظیم، ادارې او حتی د ګوند وجود د ستر ګواښ سره مخ شي.

دا چې موږ خپل ګوند د هر قسمه سیاسي، نظریاتي او تنظیمي ګمراهو نه په ډډه ساتو ضروري ده چې د مطالعې رواج عام او لازم مواد وافر کړو. وخت په وخت د ګوندي لیټریچر او نورو

Scanned with CamScanner

لازمو موادو د چاپ تابیا وکړو. او د تنظیمي تربیت سره سره د ګوندي ملګرو لید لوري او تنقیدي صلاحیت ته وده ورکړو. د دې غرض د پاره مونږ د ګوند د جنرل سیکرټري محترم مختار خان یوسفزي دوه لیکچرې چې دواړه په ګوندي ژوند پورې اړه لري چاپ کړه او دغه کتابچه وو ستاسو لاسونو ته درورسوله.
اول لیکچر سیکرټري جنرل په ۲۰۲۱ کې د سوات ضلع کمېټۍ له خوا راغوښتل شوي تربیتي سیمنار ته د وینا په شکل کې کړې وو. چې د یاد کال د قامي جرګې نه پس کله چې ګوند دا وانګېرله چې ګوندي بحران پای ته ورسېد د نوي سره ترتیب او د بیا کتنې نه پس د لوړو ادارو د پاره تیار کړو.
دا چې د ګوند د ادارو او کارکن، تېوري او عمل سیاست او تنظیم په خپلو کې تعلق څه دی او د دې تعلق اصول په کوم بنیاد ولاړ دي، په دې کې بیان شوي دي. بل لیکچر په ۲۰۰۹ کې د پښتونخوا سټوډنټس ارګنایزیشن مرکزي کمېټۍ په غونډه کې ورکړی شوی وو او لفظ به لفظ لېکل شوی دی. دا هغه وخت وو چې په ګوند کې اوسني بحران لا سر نه وو پورته کړی مګر د ادارو فعالیت نه وو. په داسې صورتحال کې هغه خپل خیالات د ګوند د ځوانانو انقلابي سازمان مرکزي کمېټۍ ته وړاندې کړو او اوس یې لیکلې بڼه ستاسو په لاسونو کې ده.
په دې هیله چې دا کار به جاري وي مونږ د ویونکو نه تمه ساتو چې زمونږ د پرنټ او کمپوز غلطۍ وبخښي او ادبي او سیاسي تېروتنې په ګوته کړي.

منته

ګوند د یو واحد وجود حیثیت لري چې د ابتدایي یونټ نه نیولې بیا تر مرکزي ادارو پورې نظریاتي او عملي توګه خپل اتحاد ساتي او په خپلو کارکونکو کې د هیڅ قسم ډله بازۍ زغم نه لري.
ګوند د وطن په بیلا بیلو برخو او د اولس په پراخو پرګنو کې په ځانګړو حالاتو او شرایتو کې کار کوي. د ګوند په بېلا بېلو برخو کې د کاري تجربو د فرق سره سره د ټولو ګوندي غړو او ادارو اساسي زمه واري د ګوند اتحاد ساتل دي. په ګوندي پالیسۍ، تدبیرونو، تګ لاره، د ګوندي کارونو په لومړیتوب او د هغې په وضاحت باندې اختلاف کیدی شي خو دغه مسایل به د ګوند په اړونده ادارو کې د ګټور بحث او قوي دلایلو د لارې حل کېږي.
په ګوند کې د نظر اختلاف د ګوندي ژوند د پاره ضروري دی او په هیڅ صورت باید ګوندي غړي د دې نه منع نه کړل شي او نه دې په دغه اختلاف بوړنه ودوړولی شي. خو د دې تر څنګ ګوند د غیر زمه واره انتشار خورولو او بې ځایه بحث جوړولو اجازه چا ته هیڅ کله نه ورکوي.
اختلاف رای هغه وخت مینځ ته راځي کله چې د ملګرو یا ګوندي ځانګو تر مینځ نظریاتي سویه کې فرق وي. یعنې د معروضي حقیقتونو د پیژندلو او د هغې دپاره د لازمي موضوعي شعور په شتون کې تضاد راشي. یعنې د خپل چاپیریال سره سم اخیستی شوو پایلو او د غیر ساینسي او بې بنسټه ماشومانه طرز فکر په بنیاد اخیستل شوو نتایجو تر مینځ ټکراو وي. په ګوند کې د اختلافاتو ختمولو د پاره اول پکار ده چې په ګوندي ادارو کې با مقصده بحث وشي. دویم د اختلافاتو اسباب معلوم شي او بحث

د اختلافي نکاتو پورې محدود وساتل شي. دریم د امکان د حده پورې شخصیات د بحث موضوع جوړه نه شي. کله چې د مقاصدو په ځای دلایل د شخصیاتو په باره کې کیږي او د اختلاف باره کې حقایق او وجوهات په نظر کې ونه ساتل شي، جذبات غالب شي او د غصې په انداز کې بیانول شروع شي نو بیا اختلاف ختمول تقریبا ناممکن شي. د زباني الزاماتو لګولو سیالي شروع شي، اختلافات په مبالغه سره بیانیږي، ډله بازۍ ته لاره خلاصیږي او چې په فوري توګه یې مخنیوی ونه شي نو په ګوند کې تقسیم ته لار خلاصه شي. تر کومه چې په ګوند کې پیتي بورژوا خویونه او فکر پراختیا مومي، تر هغه دا خطرات موجود وي. په ګوند کې د زاتي اختلافاتو بنیاد زمونږ د ټولنې په تیزۍ سره بدلیدونکي طبقاتي انډولونو په ساینسي توګه د ادراک نیشتوالی دی او د ملګرو په کورني او ځاني حالاتو کې تفاوت په دې اثرانداز کیږي. په فوري او راتلونکو سیاسي غرزو پرزو د ادراک صلاحیت په ملګرو کې یو شان نه وي او په اکثرو حالاتو کې ملګري ډیر کم د معاملاتو په پیژندنه او د هغې په ادراک کې حقایق په نظر کې ساتي. بلې خوا ته په اولس کې موجود تضادات هم په ګوند کې اختلافاتو ته لار پیدا کوي. د دغه تضاداتو د حل لپاره که غلطه لار واخیستل شي نو ډله بازي پیدا کیږي او د ګوند اتحاد برباد شي. په ګوند کې د تضاداتو د حل یواځینۍ لاره تنقید او خود تنقیدي ده چې د هغې بنیاد ساینسي طرز فکر او طریقه کار پکار وي. په اختلافاتو کې د بحث په دوران کې ملګرو ته د سختو، جذباتي کونکو او اشتعال

انګیزو خبرو نه ډډه پکار ده، د جذباتي الفاظو او سختو جملو په ځای سنجیده، مدلل او بامقصده بحث کول پکار دي، د اختلافاتو وضاحت پکار دی او په شریکه د اختلافاتو بنیادي لاملونه لټول پکار دي. کله کله اختلافات ځکه پیدا کیږي چې عملي تجربې په نظر کې نه نیول کیږي او یا اختلافات په غلط انداز کې د مبالغې سره بیانیږي. په ځینو وختونو کې بیا ډیر امیدونه او کمې لاس ته راوړنې هم د اختلافاتو سبب ګرځي. د حکمت عملۍ جوړولو او منصوبه بندۍ کولو په وخت د حاکم صورتحال او د ګوندي قوت غلطه اندازه ولګول شي او د بدلیدونکو شرایطو صحیح ادراک ونه شي. کله چې مونږ د خپل طاقت اندازه د حقایقو برعکس زیاته او د دښمن د طاقت اندازه کمه ولګوو نو په اکثرو حالاتو مونږ د ناکامۍ د مقابلې او کره تجربې په ځای بې ځایه تورونه لګول شروع کړو. په مبارزه کې غلطیانې کیږي او چې کوم ملګری یا یونټ زیات کار کوي نو غلطیانې به هم زیاتې کوي. بل خوا کوم ملګري چې کار نه کوي هغه اکثر کتابي جمله بازي یا د مابښام په وزګار وخت کې د فیسبوک تنقید نه علاوه بل کار نه کوي. د دې مثال داسې دی چې څوک منډه وهي نو د درز خوړلو امکان یې هم وي خو چې په ځای یې پرلت وهلی وي او ناست وي او خپله هیڅ کار نه کوي خو په کارکوټکو ملګرو نیوکې کوي. په عملي مبارزه کې د نورو ملګرو غلطیانې په داسې انداز غندل چې نور څوک پله هیڅ نه پوهیږي بس د زمکې په سر یو زه افلاطون یم، مناسبه رویه نه ده. د غلطو د اسبابو په لټولو کې د ماګرو کومک کول پکار دی او د

تعمیري تنقید او جرات مندانه خود تنقیدی، د لاړې د ټول ګوند اصلاح او لاس ته راوړنې د ګوند د ملګرو د پاره د لاړې مشعل جوړول پکار دي. د مسلسل عمل په دوران کې کیدونکې غلطیانې او د هغو پرله پسې اصلاح د ګوندي پرمختګ او قوت زریعه ګرځي. کله چې غلطیانې په غیر ساینسي لارو د حل کولو کوشش کیږي او زاتي تعلقات مینځ ته راځي او د مشرانو ملګرو رویه د کشرانو ملګرو سره د ملګرتیا په ځای افسر شاهانه شي نو په کارکونکو ملګرو کې به مایوسي خامخا خوریږي او په پایله کې به ګوند کمزوری کیږي. په نا تجربه کار سیاسي ګوندونو کې په عامه توګه لیدل کیږي چې په کامیابیو باندې ډمامې وهي او د ناکامیو په صورت کې د مایوسۍ او د ویر ښکار شي. دا دواړه رجحانات غیر ساینسي دي او بریالي سیاسي کارکنان هغه بلل کیږي چې ځومره د خپلو لاس ته راوړنو نه زدکړه کوي، تر هغې زیات د خپلو ناکامو نه سبق اخلي. په ګوند کې د سیاسي تربیت یو اځینی مقصد هم دا دی.

په دې کې شک نیشته چې کتابونه ویل پکار دي خو که کتابي علم په سمه او ساینسي توګه په عملي میدان کې پلي نه شي نو بیا علم د عمل په دوران کې د لاربنونکي په ځای د عقیدې شکل واخلي او دا بیا د کینۍ اړخو ګوندونو د تشو خبرو او ګمراه کن نعره بازۍ کې واوړي چې زمونږ په وطن کې په پراخه توګه رواج لري.

تنقید او خود تنقیدي:

په اکثرو حالاتو کې تنقید او خود تنقیدي د ساینسي انداز په ځای د چا د بدنامولو، الزام تراشۍ او د شخصیت د مسخ کولو په غرض کیږي او یا د کنځل ماری شکل واخلي. د خود تنقیدی رواج په سیاسي ګوندونو کې ډیر کم لیدل کیږي او نا سم تنقید، کنځل او سپکې په اکثر حالاتو کې د ځوابي کنځلو او الزاماتو سبب جوړیږي چې په پایله کې یې سیاسي اختلاف په ځاني دښمنۍ او خفګان بدلیږي. د تنقید او خود تنقیدی مقصد د غلطیانو سمول او په طریقه کار کې اصلاح او سیاسي شعور پراخه کول وي، دا نه چې څوک سپکول یا د ملګرو شخصي کردار کشي او او هغوي زیان من کول وي. په ګوندي ژوند کې تنقید او خود تنقیدي د سیاسي تعلیم او تربیت مهمه زریعه ده. د تنقید او خود تنقیدی د موثر کولو دپاره ضروري ده چې

۱: په کوم ملګري یا موضوع تنقید کیږي د هغه باره کې پوره تحقیق او معلومات وي.

۲: د کمزورو او غلطیانو پوره اسباب ولټول شي د دې دپاره چې پوره پوره اصلاح وشي.

۳: د تنقید کولو مقصد د ځاني خوښې نا خوښې په ځای پوره مقصدیت او د ملګري قایل کول وي.

۴: په کوم یونت یا ملګري چې تنقید کیږي د هغه باره کې پوره حقایق او لاملونه د ملګرتیا په روحیه او رویه داسې بیانول پکار دي چې ملګری په فیصله قایل او اصلاح شي. د ملګرو نظریاتي

Scanned with CamScanner

او سیاسي شعور ته پرله پسې وده ورکول چې ملګري د تنقید اصول و پیژني.

۵: تنقید او خود تنقیدي په داسي انداز پکار دي چې ملګرو ته د کار په دوران کې د ځان او کار په باره کې پوره اندازه وشي. دا ضروري نه ده چې ملګرې په ګوند کې د شامیلدو سره سم د خود تنقیدۍ په لارو چارو پوهه وي.

۶: د تنقید کولو دپاره لازمي شعور پکار دی چې د ګوندي لارښونې سره سم په ګوند کې د ټولو کارونو په شریکه منصوبه بندي کیږي یا کیدل پکار دي د دې دپاره چې چاته دا احساس و نه شي چې د هغه سره د یو مجرم سلوک کیږي. لوړې ادارې او تجربه کار پخوانو ملګرو له یاد ساتل پکار دي چې نوي ملګري یا لاندې ادارې چې کومې غلطیانې کوي تر یو حده د دې زمه داري په دوي هم راځي ځکه کیدی شي چې د کار سپارلو په وخت د لاندې ادارې او ملګرو لازمي تعلیم او تربیت پوره نه وي شوی او یا د کار سپارلو په وخت د کار نوعیت واضح شوې نه وي او پوره غور او فکر پرې نه وي شوې او یا خو د ملګري او یونټ د صلاحیت باره کې یې ځان پوره خبر کړی نه وي.

کله چې د تنقید نه مقصدیت او یستل شي نو په ګوند کې فرقه پرست رجحانات پیدا کیږي او د ملګرو د اصلاح او تعلیم و تربیت په ځای مونږ نورې هم غلطیانې کوو. د حقایقو په مسخ کولو او په ګوندي کار او پالیسو باندې د بامقصده او ښکاره بحث کولو په ځای په حقایقو پرده اچولو سره د ډله بازۍ او ګوند دښمنه رجحاناتو حوصله افزایي کیږي. په ګوند کې د داسې

چالاکو او خبرلوڅو هیڅ ځای نیشته چې هغه سپین تور او تور سپین ثابت کړي او د کج بحثۍ او بې مقصده دلایلو او خبرو په زریعه په ساده او ایمانداره ملګرو ځان حاوي کول غواړي. دوي غواړي چې په کتابي نعره بازو، محاورو او غلطو او دروغژنو حوالو سره ساده ملګري یا خصوصاً هغه ملګري چې تنقید پرې کیږي هغه بې همته کړي، د اصلاح په ځای یې مایوسه کړي او په ګوندي رهبرۍ او ادارو یې اعتماد ختم کړي او په پایله کې یې د کار صلاحیت یې ختم کړي. که چیرې تنقید او خود تنقیدي په سمه او مناسبه طریقه وشي نو په ملګرو کې به د یوالي او د مشرانو او کشرانو تر مینځ به د احترام رشته قوي او اعتماد به لا زیات شي.

د لار ښونکو او پارټۍ کارکونکو تر مینځ تعلق د هغه غره ختونکو کوه پیما په شان پکار دی کوم چې د ماڼکیال یا واخان څوکو ته خیژي. د هغوي دپاره لازمه ده چې د یو بل سره داسې تړون ولري چې که یو ملګری د غره د سره کندې ته لویږي نو بل ملګری یې ورته د لویدو نه د بچ کولو په خاطر لاس ورکوي. د یو غوره او کار امده ملګري او لوی لارښود جوړیدلو د پاره ملګرو ته پکار ده چې د انقلاب او ازادۍ د حصول د پاره په خپل علم کې اضافه وکړي او د ملګرو په مینځ کې همکاري لا زیاته کړي. ملګري د یو بل سره د مینې او محبت رشته قایمه کړي، که څه هم د ملګري نه غلطي شوي وي. البته دا باید په ډاګه کړو چې څوک شعوري توګه د پارټۍ دښمنۍ ته ملا وتړي، د ځان د اصلاح

کوشش نه کوي، د ګوندي منشور او ایین خلاف ورزي کوي، په ګوند کې نفاق او ډله بازۍ ته لمن وهي او د ګوند د ادارو په ځای په ملګرو او مشرانو پسې پشي شا غلط تبلیغات کوي.نو بیا ګوند د داسې اشرارو نه پاکول پکار دي. دا کار ځکه کول پکار دي ځکه چې په ګوند کې د دوي موجودګي ملګرو کې نفاق او ډله بازي نوره هم سیوا کوي او ګوند د حرکت او پرمخ تګ په ځای د جمود ښکار کیږي. په داسې حالاتو کې اړینه ده چې ګوند د دوي د شر نه خلاص او په خپله لاره په زړورتوب سره روان اوسي. د خپلو فرایضو د پوره کولو او د ګوندي پراختیا او ښوتولو په لړ کې د ملګرو تر مینځ دوستانه او صحت منده مقابله پکار ده خو دا مقابله باید په تخلیقي او مثبت انداز وي چې د ګوند په اجتماعي توان او پرمختګ کې کومکي ثابته شي.

په ګوند کې د مغروره او ځان خوښه ملګرو د پاره باید ځای نه وي، ولې چې دا د اجتماعي فکر و دانش او په شریکه د کار کولو مخنیوی کوي. البته مونږ په خپل اجتماعي بریالیتوب او په خپلو شهیدانو فخر کولی شو چې د لویو قامي ارمانونو پوره کولو په لاره کې یې سرونه ورکړل. مونږ په هغه ملګرو او مشرانو فخر کوو چې شپه ورځ په پرله پسې توګه د خپلو ځاني ګټو په ځای د ملي ګټو د پاره جدوجهد کوي او خپل ځان یې ملي او اولسي مبارزې ته وقف کړی دی. بلې خوا ته تنګ نظره، ځاني مفاد خوښونکي او مغروره تکبر کونکي د پارټۍ اتحاد تباه کوي.

په ګوند کې د ريښتوني تنقيد او خود تنقيدۍ د پراختيا په لار کې لوی خنډ په ګوند کې موجود د مينځنۍ طبقې ځان خوښي او بې لارې غړي وي. تر څو پورې چې په ګوند کې دننه د دغه باغي رجحان اصلاح او يا مخ نيوی ونه شي نو په ګوندي ژوند کې به د کره تنقيد او خود تنقيدۍ رواجول به ګران وي او د ګوند صحيح سلامت ساتلو په لار کې خنډونه ځای په ځای جوړيږي.

ګروپ بندي:

په ګوندي ژوند کې تر ټولو لوی خطر ډله بازي يا ګروپ بندي ده. ګروپ بندي او ډله بازي د ګوند وحدت خوري او د ګوند د پرمختګ او پراختيا مخه نيسي. په ګوند کې د ګوندي غړو يو ټوله چې د ګوند د ادارو او ټولې پارټۍ په خلاف د خپلې ډلګۍ يا يو فرد د ګټو دپاره کار کوي هغه ګروپ ګڼل کيږي. ډله بازي يا خو د يو فرد نه او يا د خپلو وړو وړو ګټو نه چاپيره ګرځي. په دې کې ځينې وخت د محدودو سياسي ګټو او بعضې وخت د ذاتي ګټو په بنياد هم تشکيل کيږي خو ګوند په هيڅ حال کې خپلو غړو ته د ډله بازۍ اجازت نه شي ورکولی او نه ګروپ بندي زغملی شي. په ځيني وختونو کې ګروپ بندي د وړو وړو خبرو نه شروع کيږي او بيا قدرتي طور نور ملګري د دې خلاف رد عمل کوي او په ګوند کې د مستقيل ډله بندۍ شکل اخلي. دغه ډلګۍ د لوړو قامي او ګوندي مفاداتو په خلاف د خپلې ډلګۍ او وړو وړو ګټو نه چاپيره ګرځي او د هغې دپاره کار کوي. که مخ نيوی يې ونه شي نو د ګوند وحدت د خطر سره مخ کيږي او د پارټۍ

اتحاد او اداري مسخره کيږي. د ګوندي سلامتۍ او وحدت د
پاره لازمه ده چې ګوندي غړي هر وخت د ډله بازو خلاف متحد
اوسي. او که چرته په ګوندي غړو کې داسې فسادي عناصر سر
راپورته کوي نو چې په لومړي وخت کې د دې په خلاف جدوجهد
وشي او د ډله بازانو نه ګوندي وجود پاک وساتلی شي ولې چې
همیشه د درملنې نه پرهیز کول هوښیاران غوره ګڼي. که چرته د
ګوند بيلا بيلې ادارې او غړي په لاندې اصولو عمل وکړي نو د
ګروپ بندۍ مخ نيوی کيدی شي.

۱: د ګوندي پاليسو، فيصلو او د غړو په اړه بحثونه او تنقيدونه
په سختۍ سره په اړونده ادارو او د ملګرو مخ ته پکار دي نه چې
د ادارو او ملګرو پشي شا په لارو کوڅو او يا د ابلاغ په زريعو.
باضابطه طور سره دا يقيني کول پکار دي چې په ګوندي
معاملاتو يا د ملګرو باره کې د غېر محتاط او د قواعدو خلاف
د خبرو او بحثونو اجازت چا ته ورکول نه دي پکار. هيڅ چا ته د
خپل يونټ او اداري نه بهر په ګوندي مسايلو د بحث کولو
اجازت نه دی ورکول پکار. په ابتدايي، علاقايي، ضلعي او
صوبايي ادارو کې بايد په مسايلو اصولي او واضح بحث وشي
او که مسله بيا هم واضح نه شي نو مرکزي ادارو ته سپارل
غواړي.
۲: ځاني دوستۍ او تعلقات په ګوندي مسايلو کې نه دي اثر
انداز کول پکار او د همفکره ملګرو د ادارو نه بهر غونډې کول
او مسايل بحث کولو باندې پابندي پکار ده. کوشش پکار دی

چې هغه ملګرو سره هم دوستي جوړه شي کوم چې بله او بدله رای لري. په اکثرو حالاتو کې لیدل کیږي چې کوم ګوندي غړي یو ځای کار کوي، د هغو تر منځ دغه شراکت هم د ګروپ بندۍ لامل ګرځي. دوستیانې او ځاني تعلقات په سیاسي معملاتو کې داخلول نه دي پکار.

۳: په ګوند کې اختلاف رایې د جهان په اکثرو ګوندونو کې راغلي دي مګر د اختلاف په دوران کې د همفکر ملګرو ټولګۍ نه وي جوړول پکار. هر ملګری باید په اختلافي مسله او د هغې په علت ځان پوهه کړي، مسایل په خپله اداره کې حل کړي او ملګري خپل شعور، مطالعه او تجربه دومره لوړه کړي چې د مسایلو د حل کولو جوګه و اوسي.

۴: د ګروپ بندۍ د جوړیدو، پراخیدو او مظبوطیدو له مخه د ښکاره کیدو او محسوسیدو سره سم یې بیخ ویستل پکار دي. که په ابتدایي وخت کې د ډله بازۍ په خلاف سخت او کوټلي اقدام وشي نو د دې د ختمولو د پاره کافي ده.

۵: د کمکۍ بورژوا طبقې سره تعلق لرونکي ګوندي غړو په تعلیم و تربیت ډیر پام پکار دی. پراخه مطالعه او په اعلا پیمانه تجربه حاصلولو سره ګوند د ډله بازۍ او ګروپ بندۍ مخ نیوی کولی شي.

۶: که چرته ګوندي یونټونه او اداري په باقاعدګۍ سره خپل کار کوي نو بیا د یو ملګري د کارکردګۍ په باره کې حقایق په اسانه سره لاس ته راتلی شي. د پارټۍ یونټونه او اداري د اړونده ملګرو د شعور او کار په بنیاد لوړو ګوندي ادارو ته وړاندې کول

پکار دي چې يو ملګرى دا فکر و نه کړي چې زما د صلاحيتونو قدر نه کيږي. دا اړينه نه ده چې يو ملګرى به پخپله د خپل کارونو او صلاحيتونو په باره کې لوړو ادارو ته وينا کوي. دا د ابتدايي يونټونو او ماتحت ادارو زمه واري جوړيږي چې هغه د يو ملګري د کمزورۍ، ناکامو او غلطو باره کې لوړې ګوندي ادارې خبر ساتي او که چرته د يو ملګري تنزل پکار وي نو چې د هغې باره کې سپارښتنه وشي. که چرته په سمه توګه دغه شيان په يقين ورسول شي نو په ګوند کې د ملګرو سره انصاف هم کيدى شي او د ډله بازۍ مخه هم نيول کيدى شي.

۷: ګروپ بندي په اسانه معلوميدى شي او مخ نيوى يې هم کيدى شي. ډله بازان سر عام خپل دوستان او ملګري په دې کار لګوي چې د ګوندي يونټونو او ادارو نه بهر لګيا وي خپل کارونه د ګوند نه پټ ساتي او د خپل بريا د پاره پټ په پټه او ځان ځانله وړې وړې حلقې جوړوي. د ادارو نه بهر د ملګرو د رايې په جوړولو کار کوي او په نا سمه طريقه دغه رايې ګوندي يونټونو ته راوړي. ډله بازان د يو بل د شخصيت په پاکۍ او بې ځايه لاپو او چاپلوسۍ لوړول غواړي او کوښښ کوي چې په ګوند تسلط پيدا کړي. دوي غواړي چې د ګوند د مشرانو او کارکنانو په باره کې ناسمې، غلطې او خود ساخته پروپيګنډې په نابلده ملګرو کې خورې کړي او د ګوندي وحدت غوښتونکو ملګرو او مشرانو سره يې په جګړه واچوي. کوم ګوندونه چې د ډله بازانو مخ نيوى نه شي کولى نو دا قدرتي خبره ده چې دغه ګوند به ټوټې کيږي او خپل وجود به د لاسه ورکوي. په پاکستان

Scanned with CamScanner

کې د بیلا بیلو ورو ورو تش په نوم چپي او ملت پاله ګوندونو موجودګي په اصل کې د مینځنۍ طبقې د نام نهاد دانشورانو د ذاتي او طبقاتي خصلتونو په نظر کې نیولو سره پیژندل کیدی شي. د ډله بازۍ زیلې په ګوندونو کې دننه د سرمایه دارانه رجحاناتو نه خوراک اخلي. خو د ګوندي وحدت د پاره ضروري ده چې په ګوند کې دننه د وحدت ګریزه لبرل عناصرو په خلاف اصولي، نظریاتي او عملي مبارزه وشي. ناپوهه ملګري اصلاح شي او شعوري طور سره د پارټۍ ماتوونکو ډله بازانو نوغی وایستل شي.

ډله بازي هغه وخت زور اخلي کله چې د ګوندي کارکنانو دپاره کار نه وي او یونټونه او ادارې یې جامدې شي. په دغه لړ کښې د ګوندي وجود د مظبوطیا د پاره ضروري ده چې ګوندي ادارې فعاله وي او د کارکنانو دپاره مسلسل کارونه وټاکي. خپل کارکنان په پرله پسې توګه متحرک وساتي او ادارې په اجتماعي فکر و دانش فیصلې وکړي او خپلې پالیسۍ او تدبیرونه په واضح توګه تر خپلو کارکنانو ورسوي.

جمهوري مرکزیت:

د ګوند توان په دې کې دی چې قیادت یې د خپلو کارکنانو د لیکو نه راپورته کړي او مظبوط قیادت هغه ګڼل کیږي چې د پارټۍ د غړو ورته پوره پوره حمایت حاصل وي. کله چې په لومړي ځل یو ګوند مینځ ته راځي نو د هغې تنظیم د پاس نه ښکته ځي. یعنې اول مرکزي ادارې جوړیږي بیا صوبایي، ضلعي

او نورې ادارې خو کله چې د ګوندي غړو شمېر سیوا شي نو بیا د یو صحت مند ګوند جوړولو دپاره ضروري ده چې شروع د ابتدايي یونټونو نه وشي، بیا علاقې، ضلعې، صوبې او حتیٰ مرکزي ادارې په جمهوري توګه د غړو په رایې انتخاب شي.

د جمهوري مرکزیت مطلب دا دی چې ګوند د یو واحد وجود په شان د مرکز نه تر ابتدايي یونټ پورې تنظیمي او نظریاتي توګه تړون ولري. لوړې ادارې خپلې ټولې منصوبې او پلانونه په تفصیلي او واضحه توګه لاندې ابتدايي تنظیمونو او ګوندي غړو ته بیان کړي او د تجربه کاره او سیاسي شعور لرونکو مشرانو په شان جوړو شوو منصوبو ته عملي شکل ورکړي. د لاندې یونټونو او ادارو نه ټولې مشورې، وړاندیزونه او نیوکې د اړونده یونټونو او ادارو په زریعه لوړو ادارو او مشرانو ته ولیږي. د دې سره به د کارکنانو او مشرانو تر مینځ هر وخت یوه ژوندۍ رابطه وجود ولري. په ګوند کې د جمهوریت مطلب دا دی چې پخپله د ګوند غړي ګوندي ادارې او مشران په خپله رای ټاکي او کانفرنسونو او په ادارو کې دننه اقلیت د اکثریت د رایې تابع دی. په پارټۍ کې د جمهوریت مطلب د ګوند په دستور کې بیان شوی جمهوریت ګڼل کیږي نه چې سرمایه دارانه جمهوریت. ټولو ماتحت ادارو له پکار دي چې د لوړو ادارو پریکړې او لارښونې عملي کړي البته د ګوند هر غړي او یونټ ته دا حق شته چې په پریکړه او هدایاتو د ځان پوهه کولو او قانع کولو دپاره د لوړو ادارو او مشرانو سره بحث وکړي او لوړو ادارو ته دغه رنګ بحثونه، وړاندیزونه او نیوکې په غور سره اورېدل پکار دي

خو که لوړې ادارې دغه تجاويز، ترامیم، اضافې یا نیوکې ناسمې وګڼي، د منلو ورته نه ښکاري نو بیا هم لاندې ادارې دغه ترامیم، اضافې، منصوبې، نیوکې او وړاندیزونه د ګوند تر ټولو لوړې ادارې یعنې قومي جرګې او قومي کانګرس ته وړل پکار دي خو د قامي جرګې او کانفرنس پرېکړه به ټول مني. البته غیر اهمې، بې مطلبه او بار بار بحث شوي مسایل، بې ځایه اعتراضونه، سرسري او اوږدو اوږدو بحثونو اجازت ګوند نه شي ورکولی ولې چې د دې نتیجه په ګوندي کار کې خنډونه اچول دي.

په جمهوري مرکزیت باندې په صحیح توګه عمل کولو لپاره لازمه ده چې کارکنان او ګوندي غړي پوره او مسلسله مطالعه وکړي، ځان د ګوندي پرېکړو په اهمیت پوهه کړي او د هغې د عملي کولو لارې چارې درک کړي. د ماتحت ګوندي ادارو او د ملګرو مثال د ګوند د سترګو او غوږونو دی، ولې چې دوی د خلکو په مینځ کې اوسي او هر وخت ورسره په رابطه کې وي. دوی د ګوندي پرېکړو او پالیسو په باره کې د خلکو رایې معلومولی شي او ګوندي لارښونکو ته سم معلومات ورکولی شي نو هر ابتدايي یونټ ته پکار ده چې په پرله پسې توګه ګوند د خلکو د تاثراتو او ضروریاتو نه باخبره وساتي او په دې توګه ګوند کولی شي چې خپلې غلطۍ اصلاح کړي او د اولسونو په ګټه سمې پالیسۍ جوړې کړي. هم د دې لارې د ګوند لارښونکي کولی شي چې د خلکو ریښتوني لارښودان شي. البته د ماتحت ادارو د کارکنانو د صحیح او سمې تجزیې او د حالاتو جایزې د پاره پرله پسې زده

کړه پکار ده. لوړو ګوندي ادارو ته پکار دي چې د ماتحت ادارو له خوا شوو پوښتنو او سوالونو ته ځواب اوايي او د هغوي په سياسي او تنظيمي مسايلو په حل کولو کې کومک وکړي. زمونږ ډير ملګري په نني صورتحال کې په دې نه پوهيږي چې تنظيمي بحران نه ځنګه ووځي او ګوند سر دوباره ځنګه منظم کړي او ځنګه ملګري کار وکړي. د دې صورتحال نه د وتلو دپاره ګوندي مشرانو او لوړو ادارو زمه واري ده چې د هر کارکن په فکر او عمل نظر وساتي، دوي ته لازمه لارښونه وکړي، په مشکلاتو کې وسره کومک وکړي او د هرې ګوندي پريکړې لاملونه په دلايلو سره ملګرو ته بيان کړي چې هيڅ يوه خبره د ملګرو نه پټه نه وي او نه پکې ابهام وي. زيات وخت د ګوند تنظيمي کارونو ته ورکول پکار دي او د سيمينارونو او کانفرنسونو د لارې د لوړو ملي مقاصدو د حصول په خاطر د زاتي خوښې نا خوښې نه د ملګرو ايستلو د پاره د دوي شعوري سويه لوړول پکار دي. د تنظيمي کارونو جاري ساتلو سره په پراخه کچه اولسي رابطه هم ضروري ده او دې ته ملګري تيارول د وخت ضرورت دی. په بل اړخ د ګوند رټ بحالول پکار دي ځکه د ګوندي ډسپلين پامال کونکو ته لازمي سزا ورکول هم ضروري ده.

ګوندي ډسپلين:

په ګوندي معاملاتو کې ډسپلين يا نظم و ضبط مطلب د رواج شوي مفهوم په ځای په ډيرو وختونو کې د دې ټکي اصلي معنی او مطلب اخستل کيږي. عام طور سره د ډسپلين نه مطلب د

انسانانو د يو ټولګي لکه فوځي عسکرو يا طالب علمانو کې نظم و ضبط برقرار ساتل اخيستل کيږي. خو د دغه ډلو په شان د ډسپلن ماتولو په نتيجه کې ګوند د سزا ورکولو په ځای بايد په تعليم و تربيت باندې زيات زور ورکړي. ګوند د انقلابي سربازانو د دستو د هايي کمان بل نوم دی او دې وجه ګوند له د نظم و ضبط اعلی معيار قايم کول پکار دي. په حقيقت کې د ډسپلين مطلب دا دی چې ګوند د دی جوګه کړي چې د برياليتوب په لار د خلکو رهنمائي وکړي. برسيره په دې هغه خبرې او کارونه چې په ګوندي کارکنانو کې د انتشار او کمزورۍ لامل ګرځي، ګوندي وحدت او د مبارزې مزاحمتي صلاحيت ته زيان رسوي، او يا په ګوند د خلکو باور کمزوری کوي دا ټول د نظم و ضبط خلاف کارونه دي. هر کارکن له پکار دي چې دا خامه ونه غورزوي او د کاروايۍ خبر اړونده يونټ ته ورکړي. ټولو ګوندي کارکونکو له په ګوندي پريکړو باندې په سختۍ او بغير د وخت ضايع کولو نه عمل پکار دی. د پريکړو عملي کول صرف په دې ځنډول نه دي پکار چې ځينې ملګري په دې بحث کول غواړي. د بحث اجازت به وي البته د بحث په بهانه پريکړې ځنډول او خنډونه اچولو اجازه نه دي ورکول پکار. د ټولو ګوندي رازونو تحفظ په ګوندي غړو فرض دی او په ځاني اختلاف يا خفګان د هغې افشا کول ملي خيانت دی. د ګوندي وحدت داسې ساتنه پکار ده لکه سترګه چې د خسنې نه ساتل کيږي. د غليمانو له خوا په ګوند د هر بريد بايد په پوره توان دفاع وشي. ګوندي کارکنانو له پکار ده چې په ګوند دننه د دښمن نظرياتو د خوريدو په استقامت سره مخ نيوی وکړي.

Scanned with CamScanner

د ډسپلين مسله يواځې د لاربښونکو سره تعلق نه ساتي بلکه په ټولو ګوندي ادارو، يونټونو او کارکنانو پورې تړلې ده. د ګوندي کارکونکي سياسي شعور او تنظيمي صلاحيت په پرله پسې پراختيا سره په ګوند دننه نظم و ضبط په اسانۍ سره پلي کيدی شي. يواځې د لوړو ادارو له خوا د احکاماتو په جاري کولو او په ملګرو فشار اچولو سره ډسپلين نه شي قايميدی بلکې د ټول ګوند د لوړ سياسي شعور په زريعه پلي کيدی شي. په ګوند کې تاديبي کاروايي صرف په هغه صورت کې پکار ده چې کله د يو ګوندي غړي د اصلاح ټول امکانات ختم شي. برسيره په دې د وړو وړو غلطو کونکي ملګرو د تعليم او تربيت په زريعه د اصلاح کوښښ پکار دی البته هغه کسان چي د لازمي شعور باوجود د اصلاح خوا ته نه ځي نو د هغه زمه واری په غير محسوس انداز کمول پکار دي. د ايستلو نه علاوه د ټولو تاديبي اقداماتو مقصد د تعليم او تربيت په زريعه د ملګري اصلاح کول وي کوم چې زيات محنت او صبر غواړي. د ګوند نه د چا ويستل بله مهمه مسله ده ولې ايستونکي غړي ته ګوندي رازونه معلوم وي خو د نظم و ضبط اقدامات د زيات تعليم و تربيت په زريعه د اصلاح کوښښ کول وي کوم چې د ګوندي ادارو لويه فريضه ده. کله چې ګوندي غړي د يو ملګري په خلاف ورزو خبرې کوي نو د شخصي کردار کشۍ په ځای د هغه اعمالو واضح غندنه پکار ده کوم چې د ګوند د ډسپلين د ماتيدو باعث جوړيږي. البته د اقداماتو مقصد به هيڅ کله دا نه وي چې د ملګري د کار صلاحيت زخمي او پخ شي. که چرته د نوو ملګرو د شموليت سره

سم لازمي سياسي او تنظيمي تربيت وشي نو د غلطۍ امکانات
به کم وي او ګوندي غړی په رضاکارانه ډول د نظم و ضبط معيار
ساتلی شي او که چرته په لومړي وختونو کې د ملګرو په تعليم و
تربيت پام ونه شي او وځنډولی شي او يا په دې خيال چې ملګری
به پخپله کوښښ وکړي نو داسې ملګري به په دوام داره توګه
ګوندي نظم و ضبط ته زيان رسوي او د ګوند د پاره به يو
مستقيل مرض جوړيږي. هم دغه رنګ ملګرو ته د هغوي د
سياسي شعور او تنظيمي صلاحيت او عادتونو په پام کې نيولو
پرته د لوړو زمه وارو ټاکلو لازمي نتيجه با دا وي چې د ياد
ملګري نه به زمه واريانې بيرته اخيستل کيږي او په بل صورت
کې به ګوند د لوی تاوان سره مخ کيږي. د ملګرو تنزل د سزا په
توګه نه دي ګڼل پکار بلکه د اړونده اداري يا يونټ د غلطۍ
اصلاح کول دي. چا چې د يوې مهمې زمه وارۍ د پاره يو داسې
ملګری ټاکلی وو چې د هغه زمه وارۍ سر ته رسولو توان او
صلاحيت يې نه لرلو او نه هغه ملګري ته د شرم احساس پکار دی
څوک چې د خپل صلاحيت او شعور مطابق په يو مناسب ځای
وټاکل شي. د تنزلۍ په وخت ځاني خوښه ناخوښه او ډله بازۍ
پرته عمل پکار دی.

د ګوندي غړو زده کړه:

له دې وړاندې ځای په ځای ما د ګوندي غړو په تعليم و تربيت
زور ورکړو خو د ملي او اولسي خپلواکۍ حاصلولو دپاره چې د
کوم علم ضرورت دی په هغې کې او په استعماري نصابونو کې

چې د علم په نامه کوم واهیات لوستونکو ته ویل کیږي، ډیر فرق دی او هر ګوندي غړي ته پکې فرق کول پکار دي. د جدوجهد په دوران کې چې کله مونږ نظریاتو ته د عمل جامه اغوستوو نو د علمي کتابونو نه رټه شوي اقتباسات بیانوو یا د نورو ملکونو د ازادۍ د تحریکونو تجربې هم په هغه شکل کې په خپل وطن، خلکو او حالاتو باندې منطبق کوو او د بل نقل کوو کوم چې په ملک او زمونږ په وطن کې عام طور سره رواج لري. د علم صحیح استعمال نه دی. مونږ له د علمي نظریاتو او کتابونو مطالعه ضرور او په پراخه کچه پکار ده. په تیرو نیژدو پیړو کې پیښیدونکي انقلابات، د استعماري غلامۍ نه د نوو ازاد شوو قامونو او ملکونو د ازادۍ د تحریکونو بیلا بیل اړخونه مطالعه کول، په سیمه او نړۍ کې د بدلیدونکي صورتحال نه ځان خبر ساتل او د انقلابي استازانو دستیاب کتابونه او لیکونه ضرور ویل او زده کول پکار دي. مونږ له پخپل دین هم ځان پوهه کول پکار دي ځکه چې زمونږ دښمنان زمونږ خلاف هره نظریه، مذهب او عقیده استعمالول غواړي. پنجابي استعماري قوتونو او د هغوي نړیوالو بادارانو د محکومو قامونو او اولسونو د نجات د تحریکونو په خلاف په ساختګۍ توګه د وطن او اولس د ریښتونو نماینده ګوندونو په مقابل کې خپل ګوډاګي هم په هغه شکل او نامه استعمال کړل. د مثال په توګه د اسلام دین چې د ازادۍ سخت طرفدار او د هر قسم غلامۍ سخت دښمن دی، زمونږ د غلامۍ او بربادۍ او د پنجاب د بالادستۍ قایمه ساتلو دپاره استعمال شو. حتی د افغانستان د نیولو او بربادولو د پاره

د پیغمبر اسلام د مبارکو احادیثو په نامه یې د خپل غرض حدیثونه هم جوړ کړل د کوم اقرار چې د سعودي د باچا زوي په واز کومي وکړو. د افغان نیشنلزم په ازاد افغانستان او دلته په محکومه پښتونخوا کې د مذهب ناجایز استعمال د پنجابي استعمار پالیسي ده نو په دې وجه مونږ له نوره هم ضروري ده چې د خپلو روا او مشروع مقاصدو د حصول په خاطر د اسلام د مبین دین د اصلي روح نه ځان خبر کړو. هم دا رنګه انقلابي نظریات چې په جهان کې د ملي ازادي غوښتونکو غورځنګونو لوی ملاتړي او سیدلي وو دلته په پاکستان کې د پښتونخوا او نورو محکومو ملتونو د خپلواکۍ د بهیر په خلاف استعمال کړی شو حالانکه دا هر چا ته معلومه ده چې د عالمي انقلابي تحریک د درې مهمو قوتونو نه یو هم ملي ازادي بخښونکي غورځنګونه او سیدلي دي البته دلته د انقلابي بیرغونو په څواب کې د جعلي سرو بیرغونو په زریعه مخ نیوی وشو. زمونږ ملګرو له پکار دي چې د جعل کار نام نهاد انقلابیانو مخ نیوي د پاره انقلابي نظریات په خصوصیت سره د استعمار په خلاف د نوو ازاد شوو ملکونو د ازادۍ د نهضتونو تاریخ او د دغه تحریکونو د کامیابو تجربو نه د خپلې ازادۍ او ترقۍ په تحریک کې سمه استفاده وکړو. د جهان د مترقي نظریاتو ملي ازادي غوښتونکو غورځنګونو د تحریکونو نه په صحیح توګه د ګټې پورته کولو د پاره تر ټولو مهمه نقطه دا ده چې زمونږ ملګري د تاریخ بلخصوص د پښتونخوا د ملي غورځنګونو په ژوره توګه مطالعه وکړي ځکه چې د ازادۍ تحریکونه او بریالي انقلابونه که یو خوا

ته افاقي حیثیت لري چې هغه مونږ جهاني انقلابي نهضتونو سره ورته والي ته رابولي نو د دغه انقلابونو کامیابې تجربې مطالعه کول زمونږ د لارې مشال ګرځیدی شي. بلې خوا ته زمونږ د وطن د خپلواکۍ ملي تحریک خپلې ملي ځانګړتیاوې هم لري چې د هغې زیلې زمونږ د وطن په طبقاتي انډول، زمونږ په ملي کلتور، اناناتو او اقتصادي رغونه کې ښخې دي. په دې لړ کې به مونږ له د کامل بریالیتوب د پاره دا علم او هنر زده کول غواړي چې څنګه د خارجي انقلابونو د تجربو نه حاصل شوی علم د خپل وطن د خپلواکۍ او خپلو ملي ځانګړتیاوو سره وتړو، ګټه تري واخلو او خپل ملي ډیموکراتیک غورځنګ پرې پیاوړی کړو او بریالیتوب ته یې ورسوو.

نن سبا زمونږ په بازارونو کې د پښتنو د تاریخ، اقتصاد، کلتور، سیاست، جغرافیه او دا رنګه د جهاني انقلابي تحریکونو سره انډول کتابونه پیدا کیدی شي. زمونږ ملګري باید د دغه کتابونو نه ګټه واخلي البته د کتابي علم نه د صحیح فایدې اخیستلو د پاره ضروري ده چې

۱: لومړۍ خبره دا ده چې مونږ دغه نظریات او علم اطلاق په خپلو خاصو حالاتو منطبق کول زده کړو. نظریاتو ته د عقیدې شکل ورکولو په ځای مونږ له د عمل په دوران کې نظریات خپل لارښونکي جوړول پکار دي.

۲: مونږ له خپلې تجربې هم د نظریاتو په قالب کې اچول پکار دي چې په دغه علم کې اضافه وشي. ولې چې په علم او عقیده کې

فرق وي. عقیده په خپل حال جامده وي او علم په نوو تجربو سره غني کیږي.

۳: مونږ له په یقیني طور سره دا خبره منل پکار دي چې د هر قام او وطن د ازادۍ د غورځنګونو او انقلاب جدا جدا شرایط وي. ولې چې دا نور انقلابونه او د ازادۍ غورځنګونو په ځان ځانله صورت حال او خلکو کې واقع کیږي. د نورو ملکونو او قامونو انقلابي تحریک نقل او د هغې چاپه (کاربن کاپي) ویستل زمونږ انقلاب او ازادي غوښتونکي تحریک ته ګټه نه شي رسولی. ولې چې د هر ځای په طبقاتي رغونه، د قوتونو انډول د هغوي تهولنیز او کلتوري وضع زمونږ سره په ډیرو شیانو کې توپیر لري. یعنې د دي دپاره ضروري ده چې یوه انقلابي پارټي د خپل وطن د تاریخ، کلتور طبقاتي تعلقات انقلابي او انقلاب ضد قوتونو تر مینځ توازن په ډیره تفصیلي او ژوره توګه سمه مطالعه کړي او د دې په څنګ کې جهاني صورت حال د مختلیفو ملکونو او قوتونو د یو بل سره تعلق او تضادات هم په نظر کې نیول پکار دي ولې چې د دنیا یو انقلاب یا د ازادۍ تحریک د جهان نه ځان ته جدا نشي کامیابیدی. زمونږ په اولسونو کې د اولس دښمنه نظریاتو زیلې ډیرې ژورې دي استعماري وکیلان زمونږ د خلکو د زهنونو مفلوج کولو د پاره هره وسله او حربه استعمالوي او دغه فکرونه کله کله د اولس نه ګوند ته لار پیدا کوي. نو زمونږ ذمه واري جوړیږي چې په ګوند دننه او بهر په اولسونو کې د اولس دښمنه نظریاتو په خلاف پرله پسې هڅې او مبارزه وکړو.

د ګوندي کارکونکو فريضې:

۱: په ګوندي غونډو، جلسو، مظاهرو او نورو سرګرمو کې پرله پسې برخه اغستل او په ګوندي پاليسو، فيصلو او هداياتو عمل کول.

۲: د انقلابي نظرياتو، خپل ملي تاريخ، جغرافيه او کلتور نه ځان خبر ساتل او پراخه مطالعه کول.

۳: د ګوند د مطبوعاتو مطالعه کول، حمايت او تشهير کول.

۴: د ګوندي منشور او دستور منل، د هغې احترام کول او ملي او انقلابي نظرياتو سره سم د هر قسم استحصال نه پاکې ټولنې د جوړولو، د خپل ملت د خپلواکۍ او د نړۍ د محکومو ملتونو او زپلو اولسونو د ازادۍ او سمسورتيا د تحريکونو حمايت کول.

۵: ملي او اولسي ګټې په زاتي ګټو مقدمې ګڼل.

۶: د خپلو خلکو په اخلاص سره خدمت کول او د خلکو سره په پرله پسې او دايمي توګه خپل تعلق او رابطه ساتل، د خلکو نه زده کړه کول او د هغوي فکر او غوښتنو نه پارټي خبر ساتل او کارکنانو تر مينځ د ملګرتيا او احترام تعلقات پيدا کول.

۷: د ټولو ګوندي غړو تر مينځ د رورولۍ ماحول ته تقويت ورکول.

۸: د يو بل کومک کول او انفرادي او اجتماعي کارونو د موثر کولو د پاره په تنق... او خود تنقيدي عمل کول.

۹: په ګوندي معاملا..و کې رېښتوني او ايمانداره اوسيدل او د

Scanned with CamScanner

ګوند لخوا شوي اعتماد سره غداري نه کول. د ګوندي استحکام او وحدت ساتنه کول او د خپلو خلکو او خاورې د غليمانو په خلاف بيدار اوسيدل.

۱۰: د پښتونخوا وطن د بې مثاله درنو اناناتو، روايتو او کلتوري ميراث باره کې پوره پوره شعور حاصلول.

۱۱: دا خبره چې د هر ګوندي غړي په زهين کې وي چې هغه به د خپل ګوند د هداياتو سره سم د مريتوب د مسلط نظام نوغى اوباسي او د دې دپاره به منظم او باصلاحيته ګوندي تنظيم جوړوي چې لکونه جنګيالي کارکنان په خپلو ليکو کې تنظيم کړي.

متفرق:

يو بل مهم ضرورت په سياست کې د خپلې ټولنې سياسي، معاشي، کلتوري، اداني او طبقاتي رغاونې باره کې کره معلومات لاس ته راوړه دي چې په دې کار کې مونږ ډير کمزوري يو. که چرته څوک د ميوې او سبزۍ سوداګري کوي يا د غلو منډۍ والا خپل تجارت کوي يا بل يو کاروبار نو هغوي ته دا معلومه وي چې کوم مال چې دوي تجارت کوي دا کوم کوم ځاى پيدا کيږي. په بيلا بيلو ځايونو کې د هغه جنس نرخ څه دى. بازار ته څنګه راوړل کيږي. خلکو ته يې ضرورت څومره دى. تير څنګه شوى وو او اينده به څنګه وي. لويو لويو کاروباريانو سوداګرو او کارخانه دارو ته خو دا معلومات وي او د دې دپاره تحقيقاتي ادارې هم جوړوي خو زمونږ رويه ډيره عاميانه ده. تر اوسه پورې

مونږ یا بلې سیاسي پارټۍ دا معلومات نه دي کړي چې زمونږ په وطن کې کومې طبقې او قشرونه دي، تعداد يې څه دی. څوک زمونږ ملګري کیدی شي او څوک زمونږ سره دښمني کوي یا غیر جانبدار دي. زمونږ د ازادۍ په تحریک کې د بیلو بیلو طبقو کردار څه دی. هم په دا شان د نورو سیاسي پارټیانو باره کې کره معلومات کول ضروري دي چې د دوي مشران څوک او د کومې طبقې سره تعلق لري، د دوي طرف ته زمونږ رویه څه پکار ده، مونږ ورسره د دښمنۍ رویه وساتو که ورسره د متحده محاذ جوړولو کوښښ وکړو. زمونږ ځینې ملګري د رپورټ کولو یا د حال بیانولو په وخت د مبالغه ارایي کوي او چې مشران اوینې نو لويې لويې لافې شروع کړي. دوي وايي خلک ټول تیار دي په پارټۍ کې شاملیږي خو د مشر راتلل پکار دي خو خو چې کله ترې تپوس وشي چې څوک او کوم ځای شاملیږي نو بیا وسره ځواب نه وي. حقیقت دا دی چې زمونږ یو یو ملګری او د هغه کارکردګي ګوندي مشرانو ته معلومه ده. حقیقت دا دی چې مونږ ته لا ډیر کار پروت دی او د وطن په ډیر تعداد کلو، ښارونو او بانډو کې لا زمونږ ملګري نه دي پیدا شوي. ځینې کسان په ډیره چالاکۍ او عیارۍ په وطن د سر ورکولو خبرې کوي. د نورو ملګرو نه ځان زیات انقلابي او وطن دوست ثابتول غواړي خو د ټول انقلاب او ازادي په سوشل میډیا د ملګرو عیبونه بیانول او خپل صفتونه لیکل دي. دوي ډسپلین نه مني او حتی په ګوندي کارونو کې لس روپۍ چنده هم نه ورکوي. په هر قام کې دوه قسمه روایتونه موجود وي، یو د لوړو طبقو او بل د لوی

اکثریت عامو خلکو. لوړې طبقې د خپل جاه و جلال او رعب داب ساتلو په فکر کې وي او د وطن په فکر کې ډېر کم وي. عام اولس به د دوي نه ویریږي خو د دوي سره مینه او همدردي نه لري او هر وخت د خپلو مشکلاتو او ستونزو د حل په لټه کې وي. د یو قام د ازادۍ او انقلاب دار و مدار هم په دغه خلکو وي. کومو ملکونو کې چې سیاسي ګوندونه او د هغې مشران او کارکنان ځان د اولسونو په رنګ کې رنګ کړي نو بیا یې هر ناممکن په ممکن بدل کړی دی. لرې به نه زو په هند ملي کانګرس او د هغې مشر مهاتمه ګاندي ځان په دې راز پوهه کړو چې د هند د ازادۍ اصل قوت د هند غریب خلک په خاصه توګه کسانان دي نو هغه انګریزي جامې لرې کړې او لنګ یې ووهو. ځان یې د خلکو په رنګ کې رنګ کړو د هغو کمزوري زاتونه یې د اچوتو په ځای په هري جن ونومول. په دې توګه یې په کروړونو هندي کسانان او خواري کښان د ځان ملګري کړل او د هند د ازادۍ خوب یې په حقیقت بدل کړو. زمونږ د ملګرو نه هم مونږ هیله لرو چې

۱: یو خوا ته نړیوال او سیمه ایز تولنیز سیاسي او اقتصادي صورت حال نه ځان خبر ساتي نو هم دغه رنګ به د خپلې علاقې، کلي او پلو صورت حال په ساینسي توګه د پیژندلو کوښښ کوي. د ملت وروستو پاتې او غریبو خلکو سره به تړون پیدا کوي. د هر قسمه ظلم، جبر، استثمار او استعمار په خلاف به دوي منظم کوي او د دوي لارښونه به کوي. د یو سیاسي کارکن او د خلکو د پرګنو مثال د د یو مقناطیس او کشیش ثقل لرونکو

وسپنیزو ټوټو پکار دی چې خلک په ځان راغونډولی شي.

۲: په پاکستان کې د ریاستي پروپیګنډې او حتی جاسوسي ادارو له خوا په ملي او مترقي نهضتونو کې داخل کړی شوو عناصرو د کردار د سببه خلک داسې فکر کوي چې ملي او مترقي سیاسي کارکنان د خدای او رسول د دین اسلام خلاف دي هر قسم بد کارونه کوي او د خپلو روایاتو هیڅ خیال نه ساتي. ځینې خلک د یو فیشن په طور سره هم دغه کارونه کوي او دا یو لوی کار ګڼي. ځینې سیاسي کرکنان په ناپوهۍ کې د دوي نه متاثره کیږي. د لاندې درمیانې طبقې دغه تش په نوم انقلابیان نه خلکو ته تلی شي نه د انقلاب څه خدمت کولی شي او نه په دوي کې د خلکو د لاربښونې توان وي. صرف د ژوند د ناکامو او مایوسو وهلي دا قسم خلک اکثر د لویو ښارونو او کلو په هوټلونو او کیفو کې د چای او قهوه څښلو په وخت ځان انقلابیان چې چاته بد رد وایي ځان لوی دانشوران ګڼي نو زمونږ ملګرو ته پکار دي چې ځان د دغه ناولو ګنده او رد شوو خلکو نه وساتي د خپلو خلکو د عقایدو، رسمونو، رواجونو احترام وکړو د خلکو په مینځ کې داسې ژوند وکړي لکه مهی چې په اوبو کې پایي. دغه شان د یو سنجیده ژور نظر لرونکي، پوهیدونکي، میړني او د خپلو خلکو او ملت په مفاداتو سر ورکونکي سیاسي کارکن په حیث ژوند وکړي.

د پښتونخوا ملي عوامي ګوند سینئر ډپټي چیرمین محترم مختار خان یوسفزي د پښتونخوا سټوډنټس ارګنایزیشن مرکزي

کميټې ته وينا.

ملګرو! لکه څنګه چې مونږ او تاسو په دې پوهيږو چې سياست يو ساينس دی. ساينس دا په دې معنی دی چې دا د ټولنې دننه پټ پراته حقيقتونو پلټنه او ادراک کوي. په ټولنه کې هغه قوتونه چې د ټولنې د پرمختګ مخنيوی کوي هغه په ډاګه کوي. او هغه قوتونه چې د ټولنې د پرمختګ قوتونه دي او د ټولنې د پرمختګ باعيس ګرځي هغه معلوموي او د هغې نښاندهي کوي. ورسره د قام، وطن او ملک بنيادي تضادات چې په ټولنه کې موجود وي د هغه تضاداتو په بنياد صف بندي کوي. جهاني چې کوم صورتحال وي د هغې يو حقيقت پسندانه معلومات، تحقيق او پلټنه يې کوي. او بيا په سيمه چې د هغې څه اثرات وي، په ملک او قام چې يې کوم اثرات وي په هغې ځان پوهه کوي او د هغې په تناظر کې خپل قام او ملت ته د نجات ورکولو د پاره لار اوباسي.

خو د دې سره ملګرو سياست ارټ هم دی. لکه يو سړي يوه خاکه جوړه کړه چې زه به يو تصوير جوړوم. نو دا د ده سائنس دی. خو چې کله بيا دی قلم راواخلي او د دغه تصوير په ايستلو شروع کوي. چې دلته کې به کوم قلم استعماليږي، کوم رنګ به استعماليږي څومره به نازک وي څومره به نه وي نازک، دې ته بيا د دې تصوير ارټ ويل کيږي.

په سياست کې هم چې تا د وطن او قام مسايل درک کړه، بنيادي تضادات دی معلوم کړو يعنې په هغې کې دې دوست او دښم..

Scanned with CamScanner

قوتونه په ګوته کړه، او سمه حکمت عملي جوړه کړه. نو بيا يې دويمه مرحله دا راځي چې ته په دې باندې عمل وکړې. او د عمل دا مرحله يې بيا د ارتې برخه ده. چې د دغه قوتونو باقاعده صف بندي وکړې، خلکو ته لاړ شې خپل پيغام ورته ورسوې او د دوی تنظيم کاري وکړې.

اوس که يو سړی ډير زيات په نظرياتو پوهه دی خو چې دی دغه نظريات په ټولنه کې نه شي عملي کولی نو دا سړی يو کامياب سياستدان نه شي کېدی. يوازې په علم يعنې په تيوری، پوهيدل او د هغې د عملي کولو په هنر نه پوهيدل دا ټولنې ته او يا سياسي عمل ته ګټه نه ورکوي. دا يو بې عمله سړی کېدې شي چې دی ناست دی کتابونه لولي او يا نظريات بيانوي خو د کوره نه وځي چې يو بازار ته لاړ شي، يو کلي ته لاړ شي، يو سکول او کالج ته لاړ شي او هلته اولس راغونډ کړي او د اولس مسايل اولس ته بيان کړي.

١

د علم او پوهې د خاوندانو سره چې کومه پوهه ده، د اولسونو په باره کې، د کائناتو په باره کې، دا د دوی سره د انسانانو امانت دی. که دوی دغه پوهه ټولنې او انسانيت ته ورنه کړي او د هغو تربيت او پرې ونه کړي نو دې سړي د خپل علم سره خيانت وکړو. بلې غاړې ته بيا داسې عمل چې هغه د علم اوپوهې ضرورت نه محصوصوي او زده کړه نه کوي. زده کړه بيا دوه قيسمه ده يوازې کتاب ويل هم زده کړه نه ده. زده کړه يوه هغه ده چې د دنيا د

انقلابونو د تجروبو په شکل کې په کتابونو کې لیکل شوې ده.
مونږ به کوښښ کوو چې هغه زده کړه هم وکړو یعنې کتاب هم اوایو، هغه ټولې تجربې د دنیا د انقلابي تحریکونو هغه اوایو او د خپل قامي تحریک د پرمختګ د پاره یې استعمال کړو. خو د دې سره سره زده کړه به د ټولنې او خلکو نه کوو.

یعنې که مونږ وګورو نظریات څنګه جوړیږي؟ نظریات داسې جوړیږي چې ستا په ټولنه کې چې کوم حقیقتونه پراته دي اولسونه په هغې باندې بحثونه کوي. د اولسونو دغه بحثونه په شډل شکل کې وي خو په شډل شکل کې دا مواد په ټولنه کې په ډیر لوی تعداد کې پراته وي. د سیاسي پارټۍ او سیاسي کارکن ځانګړیتوب په دې کې دی چې دغه شډل مسایل راغونډ کړي او په یو منظم او سکښتي انداز یې بیا ټولنې ته پیش کړي. نو ټولنه بیا هغه قبلوي. ځکه چې د ټولنې نه تا زده کړې ده. د ټولنې چې کوم دردونه او تکلیفونه دي تا معلوم کړي دي، بیا د هغه تکلیفونو او دردونو دوا ته هغه ته وروړې نو هغه بیا د دې سره صحت مومي. نو سیاسي کارکن، سیاسي تحریک او اولس د یو بل سره تړون پیدا کوي.

لکه څنګه چې ما تاسو ته خبره وکړه
انقلابي عالمان دا خبره کوي چې بې عمله علم بې عملي ده، د الفاظو فضول خرڅي ده. خو بیا بې پوهې عمل دا داسې دی لکه یو ړوند چې لار وهي یعنې یو ړوند چې مزل کوي. نو ړوند سړی چې مزل کوي نتیجه به یې څه وي؟ نتیجه به یې دا وي چې د یو

Scanned with CamScanner

لوی کنګر نه به غورځیږي. نو سیاسي کارکن به هم د خپلې ټولنې حقایق زده کوي. د کتاب نه به هم زده کړه کوي او د خلکو نه به هم زده کړه کوي.

لکه څنګه چې انقلابي عالمان دا خبره کوي "چې د خلکو استاذان جوړ شئ، د خلکو شاګردان جوړ شئ". د خلکو شاګردي دا ده چې د خلکو نه تاسو د هغو مشکلات او مسایل زده کړو، د هغو دردونه او تکلیفونه وو ترې زده کړو. او د خلکو رهنمايي او استاذي دا ده چې تا هغو ته د حل لاره وښوده.

اوس نو عزیزانو! مونږ پښتونخوا ملي عوامي پارټي او د پښتونخوا سټوډنټس ارګنایزیشن په معنی مونږ په دې پوهیږو چې په انساني ټولنه کې د سیاسي پارټۍ اهمیت څه دی؟

سیاسي پارټي لکه چې تاسو ته معلومه ده، دا د هم فکره انسانانو، په یو فکر د متفق شوو انسانانو یو داسې ټولګی دی چې په شریک تنظیم کې منظم شوي وي، په مشترکه رهبرۍ باندې راغونډ شوي وي او یو رضاکارانه ډسپلن یې په ځان منلی وي. دا څلور عناصر دیوې سیاسي پارټۍ اجزاء ترکیبي دي. مشترکه فکر، مشترکه تنظیم، مشترکه ډسپلین او مشترکه رهبري.

اوس که مونږ سوچ وکړو یعنې اول د دې نه شروع وکړو چې په پارټۍ کې د شمولیت د پاره د پارټۍ نظریات بې له قیده او بې

شرطه منل په پارټۍ کې د داخلیدو لومړی شرط دی. یعنې د پارټۍ چې کوم نظریات دي، که د لرې واتن نظریات دي که د نژدې نظریات دي. یعنې د پارټۍ ستریټجي ده که د پارټۍ تدبیر دی. د دې سره به دی مکمل اتفاق کوي. که دی د دې سره اتفاق ونه کړي نو دی بیا د پارټۍ غړی نه شي جوړېدی. داسې نه شي کېدی چې یو سړی دا وایي چې زه خو د پښتونخوا پارټۍ د نورو خبرو سره اتفاق کوم خو د مینځنۍ پښتونخوا په باره کې چې د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ کومه پالیسي ده دا زه نه منم. د دی سره زما اختلاف دی. نو دا سړې د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ یو همدرد، یو اتحادي خو کېدی شي خو د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ غړی نه شي کېدی. په پارټۍ کې به په پوره زړه باندې او په پوره اتفاق باندې رضاکارانه طور شاملېږې. د پارټۍ ټول نظریات به ته منې نو هله به ته په پارټۍ کې شاملېږې. خو بیا یواځې د نظریاتو منل کفایت نه کوي. د پارټۍ غړی به د پارټۍ په یو ابتدایي یونټ کې شاملېږي. په پارټۍ کې یو داسې سړې نه شي کېدی چې دی وایي زه په پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ کې یم خو زه د یو ابتداي یونټ غړی نه یم. داسې سړې د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ د ائین له مخې د پارټۍ غړی نه شي کېدی. د پارټۍ منشور به مني خو د دې سره به د پارټۍ په یو ابتداي یونټ کې دی شامل وي. که د ده په کلي کې د پارټۍ د ائین مطابق چې مونږ وایو لس تنه، که هغه نه پوره کېږي د بل کلي د یونټ سره نیژدې چې کوم ده ته دی د هغو سره به دی په یونټ کې داخلېږي. هلته به په پارټۍ کې د شمولیت

اعلان کوي. او د پارټۍ په تنظیمي عمل کې به برخه اخلي.

په تنظیم کې شاملېدلو نه پس بیا بله مرحله دا راځي چې ځینې ځیزونه داسې دي چې هغه د پارټۍ له خوا په مونږ فرض دي. هغه به د پارټۍ هر یو سړې سرته رسوي. بیا ځینې ځیزونه داسې دي چې هغه منع دي. کوم کار چې پارټۍ منع کړی دی هغه به د پارټۍ کارکن نه کوي. په پارټۍ کې شمولیت د انسان رضاکارانه عمل دی. هر یو سړی چې په پارټۍ کې شاملېږي په خپله خوښه شاملېږي خو په پارټۍ کې بیا ژوند کول د سړي په خپله خوښه نه دی. په پارټۍ کې ژوند تیرول د پارټۍ د ضابطو یعنې د پارټۍ د ائین مطابق کېږي. او د پارټۍ په خوښه به کېږي.

زمونږ په ائین کې د پارټۍ د تنظیم د مختلیفو ادارو اختیارات معلوم دي. زمونږ پارټي پینځه قیسمه اداري لري. مرکزي کمیټي، صوبایي کمیټي، ضلع کمیټي، علاقایي کمیټي او ابتداي یونټ. دا پینځه اداري مونږ لرو البته په دی ټولو باندې باله یوه بله اداره هم شته. هغه زمونږ قامي کانګرس دی. خو هغه د یو کانګرس او بل کانګرس تر مېنځه فعاله نه وي. د کانګرس اختیارات قامي جرګه او بیا مرکزي کمېټي هغه استعمالوي.

اوس راځو دی ته چې په پارټۍ کې فېصلې څنګه کېږي؟ زمونږ په پارټۍ کې ټولې فېصلې په جمهوري توګه کېږي. د هر ملګري دا اختیار دی، دا یې حق دی بلکې که داسې اویو چې دا ضروري

ده چې هر مګرې دی د پارټۍ د پیش رفت او پرمختګ د پاره چې د ده په زهن کې کوم تجاویز دي پکار ده چې هغه ډیر په جرأت او په سر ګرمۍ سره وړاندې کړي. په هغې باندې د پارټۍ په اداره کې بحث وشي. قانع کونکي دلایل پرې اوایي. یعنې دا د پارټۍ د کارکن حق دی. خو چې کله بیا د بحث مباحثې نه پس د پارټۍ یوه اداره یوې فیصلې ته ورسیږي نو په هغې کې به د پارټۍ د دغې ادارې فیصله د هغه کارکن د پاره هم چې اختلاف یې کړی دی. داسې منل فرض دي لکه څنګه چې دی د خپلې رایې په حق کې وو.

یعنې اختلاف رایې به دی کوي. مثال مونږ دا وایو چې مونږ سحر له جلسه کوو. اوس په دې میټنګ کې بحث کوو چې سبا جلسه وکړو که نه؟ ځینې ملګري به دلایل کوي چې جلسه نه ده پکار او ځینې بیا دلایل واي چې جلسه کوو. د بحث مباحثې نه پس چې کله د دې غوندې اکثریت فیصله وکړه چې جلسه به کوو. نو د هغه ملګرو چې د دې سره یې اختلاف کړی دی، د هغو اولنۍ ضماوارې دا ده چې د دې جلسې د پاره به تر ټولو زیات په سرګرمۍ سره کار کوي. دی به دا خبره نه کوي چې ما خو د دې جلسې مخالفت کړی وو. مونږ یا زه خو په دې کې نه یو. که دوي دا خبره کوي نو دوي د پارټۍ د ډسپلن نه انحراف کوي او د پارټۍ ډسپلن نه منې. د دې نتیجه به دا وي چې دا سړی بیا د پارټۍ سره نه شي تللی.

دغه رنګه بیا د ادارو سره د ادارو تعلق دی. مطلب دا دی چې

ابتداي يونټ فيصله وکړه چې مونږ يو کار کوو. مثال جلسه کوو نو دا د ابتداي يونټ فيصله به د علاقايي پارټۍ د نګرانۍ لاندې کيږي. يعنې اوله خبره دا ده چې د هرې لاندې اداري ميټنګ چې کيږي دا به د بالا اداري تر څارنې لاندې کيږي. دويمه خبره دا ده که د ابتداي يونټ دا فيصله چې دوي واې مونږ جلسه کوو. که د دوي دا فيصله علاقاي پارټۍ رد کړه نو ابتداي يونټ دا اختيار نه لري چې د علاقاي پارټۍ دغه فيصله رد يا چيلنج کړي. يعنې هرې لوړې اداري ته دا اختيار شته چې هغه د لاندې اداري فيصله رد کړي. لاندې اداره بيا دا نه شي ويلی چې زمونږ خودمختاري پامال کيږي.

د پارټۍ ائين چې مونږ راواخلو هغه کې چې وايي فرد د تنظيم تابع دی. اقليت د اکثريت تابع دی، لاندې اداره د باندې اداري تابع ده او مرکزي کميټي کانګرس ته جواب ورکونکې ده. کانګرس بيا څه شيز دی؟ کانګريس معنه د ګوند ټول ممبرشپ او د هغو استازي.

اکثره داسې کيږي چې مونږ چونکې په هغه اصولو باندې نه پوهيږو نو ځکه زمونږ نه په کار کې غلطي کيږي. ځينې خلک دا دليل کوي چې ياره خو نو زمونږ ضلعې فيصله کړې ده په دې کې د صوبې څه کار دی؟

پارټي يو واحد وجود دی او د تنظيم په معنی دا کړې دي. اوس سوال داې چې د وجود نه يو اندام جدا شي. ايا دا په خپله خوښه يو عمل کولې شي؟ نه شي کولې. د وجود يو اندام چې د وجود نه

جدا شو دا بيا د وجود برخه نه شو پاتې. نو حقيقت دا دی چې په ځينو ځايونو کې ملګري په ناپوهۍ او کله بيا په شعوري توګه دا خبرې کوي چې دا خو زمونږ د صوبې فيصله ده په دی کې به مرکز مداخلت نه کوي، دا زمونږ د ضلعې مسله ده په دی کې د صوبې کار نيشته، دا زمونږ د علاقې مسله ده په دې کې د ضلعې کار نيشته يا بيا دا زمونږ د کلي مسله ده په دې کې د علاقې څه کار دی. يا بيا ځينې خلک واي چې دا زمونږ جمهوري حقونه صلف کېږي. يعنې زمونږ ابتداي يونټ په اکثريتي راي فيصله وکړه چې جلسه به کوو او علاقاي پارټۍ هغه رد کړه. خو په حقيقت کې دا سړې خپله جمهوريت نه منې. يعنې علاقاي پارټي خو د علاقې د ټولو ابتداي يونټونو د پارټۍ د ټولو ممبرانو په راې منتخب شوې ده. او ته د اکثريت په راې جوړه شوې علاقاي پارټۍ فيصلې نه منې او د يو ابتداي يونټ فيصلې له ترجحي ورکوې. او داسې پسې په برا ځه. ضلع بيا صوبه او بيا مرکز.

دا کار يو تنظيم دښمنه عمل دی او پارټي په يو خود سره او بې شکله سازمان باندې بدلوي او انارکي جوړوي. چې داسې پارټي هيڅ کله هم د قام په ګټه نه شي راتلی او نه خپل قام له ازادي او خپلواکي اغستی شي.

لکه څنګه چې ما اويل

په پارټۍ کې د اظهار رايې مکمله ازادي ده. او دغسې د اختلاف رايې هم مکمله ازادي ده. اوس سوال دا دی ‘چې

Scanned with CamScanner

اختلاف راېږ به په کوم ځای کې کېږي؟ اختلاف رایې به صرف او صرف د پارټۍ په ادارو کې کېږي. او که چرته یو سړی ځان ته دا حق ورکوي چې زه خو ازاد یم په ما څوک دا پابندي نه شي لګولې چې زه به د پارټۍ د فیصلې سره اختلاف نه کوم. نو څنګه چې دا سړی ځان ته دا ازادي ورکوي چې زه د فرد په حثیت باندې ازاد یم چې د پارټۍ سره به اختلاف کومه، نو پارټي هم بیا د یو سازمان او د یو تنظیم په حیثیت ازاده ده چې دغه سړی د خپلو صفونو نه اوباسي. یعنې که دی دا ازادي لري نو پارټي بیا هغه ازادي لري.

که مونږ وګورو نو د پارټۍ ټولې ادارې د پارټۍ د ملګرو په رایې باندې منتخب کېږي. یعنې زمونږ پارټي جمهوري ده. د پارټۍ ملګرو ته د اظهار رایې مکمله ازادي ده. د تنقید او اختلاف رایې ازادي ده. خو چې کله د پارټۍ یوې ادارې په اکثریت رایې فیصله وکړه نو بیا دا مَنل د ټولو د پاره یو شان دي.

نو اوس په دې کې دویمه خبره دا راځي یعنې اوله خبره دا چې د پارټۍ د نظریاتو سره مکمل اتفاق چې هغه به دې بې له قیده او بې شرطه مني. دویم دا چې د پارټۍ په ارګنایزیشن کې به دی تړلی وي. او د پارټۍ چې بیا کوم بې حسابه تنظیمونه دي په هغه ځنځیر کې به د ده یوه کړۍ یو ځای معلوم وي. دریمه خبره دا ده چې پارټي به یوه مشترکه رهبري لري. یعنې یو سړی په سوات کې دی او بل سړی په کویټه کې دی، د دوي تر منځه یوه مشترکه کړۍ ده. هغه مشترکه کړۍ مشترکه رهبري ده. رهبري یواځې دې

نه نه وای چې چیرمن چې دی هغه رهبري ده یا مرکزي ایکزیکټو رهبري ده. د پارټۍ د هرې سطحې رهبري ده یعنې د پارټۍ ابتدایي یونټ کې رهبري شته. دغه رهبري د دې ابتدایي یونټ شریکه رهبري ده. د پارټۍ په علاقه کې بیا رهبري ده. دغه رهبرۍ ته به ته داسې احترام کوی لکه څنګه چې مرکزي ایکزیکټو ته لرې. د پارټۍ د ضلعې بیا رهبري ده. دا د ضلعې رهبري بیا په ټولو یونټونو باندې د دغه رهبرۍ چې کومې فیصلې دي او یا سیاسي لایحه عمل چې دوي یې وټاکي، ټول یونټونه او ټولې علاقې به دا مني. دغه رنګه صوبه ده او د صوبې لاندې ضلعې دي او بیا مرکزي کمیټي ده. یعنې په پارټۍ کې به مشترکه رهبري وي. مشترکه رهبري معنه د هغه متعلقه پارټۍ ایکزیکټیو. که د یونټ غړي دي د یونټ رهبري د دوي مشترکه رهبري ده، که بیا د علاقې غړي دي د علاقې دا ایکزیکټو د دوي مشترکه رهبري ده. که ضلع ده بیا د ضلعې دا مشترکه رهبري ده او که دا صوبې دي د صوبې په سطح دا مشترکه رهبري ده او که بیا د مرکز دا مشترکه رهبري ده.

اوس نو رهبري بیا څه څیز دی؟ رهبري معنی خلکو داسې اغستې یي لکه یو فرد. رهبري بنیادي طور اجتماعي قیادت ته ویل کیږي. اجتماعي قیادت دا دی چې فیصلې به یو فرد نه کوي فیصلې به د پارټۍ اداري کوي. او د دغه فیصلو منل به د پارټۍ په ټولو ادارو او ارګانونو باندې فرض وي. اداري او د پارټۍ کارکن به د هغې نه سر غړونه نه کوي. د دې سره په پارټۍ کې د تنقید ازادي ده. د تنقید که مونږ بنیاد ته وګورو نو لغوي معنی یې نغدول دي. یعنې

یو سړی سالم کول. هغه داسې څېز دی لکه زه یو ملګري ته وایم چې ستا خو نن رنګ خراب دی په سترګو کې دې فرق دی. بیمار یې تو خېږې یا بل څه. نو دا زه د څه د څه د پاره کوم؟ دا زه د ده سره د خواخوږی په بنیاد کوم. د ته زه دا ځکه وایم چې دی لاړ شي ډاکټر له ټیسټ وکړي چې څه بیماري خو یې نیشته. دا به زما د ده سره خواخوږي وي. یعنې تنقید به د اصلاح د پاره کېږي. او دغه د اصلاح تنقید د هر ملګري حق دی چې دی به یې کوي دا تعمیري تنقید دی د پارټۍ په چیرمن، په ټوله مرکزي ایکزیکټیو، په صوبایي مشرتابه یې کولی شي یعنې د پارټۍ د هرې سطحې په اداري یې کولی شي. البته دا خیال به کول وي چې تنقید به د ملګري د بیمارۍ د ختمولو د پاره او د هغه د کمزورۍ د علاج د پاره وي. د تنقید مطلب به دا نه یې چې ملګری څوک په لاعلاجه مرض اخته کړي او داسې نفسیاتي بیمار یې کړي چې هغه د سیاسي کاره اوباسي. تنقید به د تعمیر د پاره او د اصلاح په نیت به کېږي. دا به نه یي چې پرون تا زما په خلاف خبره کړې وه نن نو زه ستا په خلاف خواه مخوا خبره کوم. په انقلابي سیاسي پارټۍ کې د دی ځای نیشته. تنقید به کېږي، تعمیري تنقید به کېږي د ملګري زات به نه په نخښه کېږي. البته د هغه کمزوري به په ګوته کېږي او د هغې د اصلاح د پاره به پارټي تجاویز کوي. یعنې داسې به نه کوو چې مونږ ملګري ته وایو چې ته خو مریض یې ستا نه خو سخه بوي خیژي زیږ مخیه دا زیږې سترګې دې نیولي دي. یعنې د هغه د بیمارۍ په وجه به هغه سپکوو. نه بلکې د هغه د بیمارۍ علاج به کوو.

Scanned with CamScanner

خو سوال دا دې چې تنقید به کوم ځای کو؟ تنقید به د پارټۍ په اداره کې کوو. د ادارې نه بهر تنقید تخریب دی او پارټي دې ته په هیس صورت اجازت نه ورکوي.

دغه رنګه ملګرو! په پارټۍ کې د کار د مخته بولو د پاره ضروري خبره دا ده چې د پارټۍ ټولې ادارې فعاله وي. د پارټۍ ټولې ادارې د پارټۍ د ائین مطابق فعالیت کوي. ملګري پکار ده چې د ادرو په حیثیت باندې فېصلې وکړي، پالیسي جوړه کړي او د دغه فېصلو د عملي کولو د پاره د ملګرو زمه واریانې وټاکي. یعنې کارونه فېصله کول او کارونه بیا ملګرو ته حواله کول. د ملګرو د صلاحیت مطابق د هغو زمه واریانې ټاکل. او د کار په دوران کې د ملګرو د کار جانچ پړتال او معلومات کول. د ملګرو نه دا پوښتل چې تا ته چې پارټۍ کوم کار حواله کړی وو ته په هغه کار لګیا یې که نه؟ که لګیا یې نو تا په هغه کار کې څومره پرمختګ کړی دی؟ که نه دې دی کړی وجوهات یې څه دي؟ دا طرز ټیک نه دی چې مونږ ملګري ته په یو میټنګ کې کار حواله کړو او په بل میټنګ کې ترې بیا رپورټ غواړو. د دې نتیجه دا شي چې هغه راشي وایي "ملګرو زه بخښنه غواړم ما خو هغه کار نه دی کړې". دا کار تاواني دې ښه طریقه دا ده چې اداره کې کارونه فیصله شو او د دغه کارونو زمه واران وټاکل شو. بیا نو د رهبرې ادارې کار دا دې چې دا به د کار په دوران کې د ملګرو نه د هغو د کار معلومات کوي. که د کار په دوران کې دې ملګرو ته څه مشکل پیښېږي نو د پارټۍ رهبره اداره به د کار په

دوران کې د دوي کومک کوي. دا د کار اصول دي. کارونه معلومول، کارونه فیصله کول، د ملګرو زمه واریاني ټاکل، د کار په دوران کې بیا د ملګرو سره د بالا اداري رابطه او د مشکل په صورت کې د ملګرو کومک کول. او دا هم په نظر کې ساتل چې ملګرو ته مونږ کار حواله کوو. د دې ملګري صلاحیت په کار ده په نظر کې وساتل شي. او ورسره پکار ده د دې ملګري ژوند مونږ ته معلوم وي چې دا ملګری زه په کار پسې لیږم د ده ژوند څنګه دې، د ده د کور حالات څه دي؟ د ده په جیب کې د کرایه د پاره یو دوه روپۍ شته کنه؟ یعنې د هغه څیزونو بندوبست کول چې د کومو څیزونو د کار په دوران کې دې ملګري ته اړتیا ده. د پارټۍ د ملګرو تعلق! پارټي یو مشین دی خو دا داسې بې جانه مشین نه دې لکه د اوسپنو مشین په شان د یو بل سره تړلي شوې دې. دا د ژوندو او باشعوره انسانانو مشین دی. په دې کې به ځینې خبرې داسې راځي چې د پارټۍ د کارکن زاتي او کورني مسایل به په پارټۍ باقاعده اثرانداز کېږي. نو د یوې باعمله پارټۍ د هغه پارټي چې هغه واقعي بدلون غواړي او یوه انقلابي پارټي وي. د دې خپل عمل د کامیابولو د پاره چې پارټي د کار په دوران کې د پېښو مسایلو او مشکلاتو د حال کولو کوښښ وکړي. دا د پارټۍ په زمه وریانو کې یوه بنیادي خبره ده.

❖❖❖

Shop No 8 Lower Ground Sheikh Yaseen Tower
Arbab Road Stop University Road Peshawar
Contact No: 0092 3319801600

Scanned with CamScanner